# پر پښتو ژبه او ادب
# دمعلوماتي ټکنالوژۍ
# اغېزې

څېړنیار مطیع الله ساحل

۱۴۰۱هـ.ش

پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې

۱۴۰۱ هـ.ش

څېړنیار مطیع الله ساحل

# The Impacts of Information Technology on Pashto Language and Literature

*Junior Assistant Professor Matiullah Sahil*

2022

ISBN 978-9936-661-28-8

9 789936 661288

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو د برخې معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې

لیکوال: څېړنیار مطیع الله ساحل

۱۴۰۱هـ.ش

**د کتاب پېژندنه**

| | |
|---|---|
| **د کتاب نوم:** | پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې |
| **لیکوال:** | څېړنیار مطیع الله ساحل |
| **ایډیټور او مهتمم:** | څېړندوی احسان الحق کبیر |
| **خپرندوی:** | د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست |
| **د لیکلو کال:** | ۱۳۹۷هـ.ش |
| **د چاپ کال:** | ۱۴۰۱هـ.ش |
| **مطبعه:** | لایف ستار |
| **د چاپ شمېر:** | ۳۰۰ ټوکه |
| **ISBN:** | 978-9936-661-28-8 |


د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحیم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخگڼه**


د لارښود استاد گزارش ........................................أ

سریزه ........................................................۱

## لومړی څپرکی

**د موضوع شالید ..............................۵**

## دویم څپرکی

**د معلوماتي ټکنالوژۍ معرفي او سیمې ته یې د راتگ څرنگوالی ..............۱۳**

۱. د معلوماتي ټکنالوژۍ پېژندنه ..............................۱٤

۲. د معلوماتي ټکنالوژۍ ډولونه ..............................۱٦

الف) په نړیواله کچه: ..............................۱٦

ب) په هېوادنۍ کچه: ..............................۱۷

۳. د معلوماتي ټکنالوژۍ د پیدایښت او پایښت د بهیر څېړنه ..............۲۳

الف) په نړۍ کې ..............................۲۳

ب) په هېواد کې ..............................۳٤

## درېیم څپرکی

**په پښتو ژبه او ادب کې له معلوماتي ټکنالوژۍ څخه د گټې اخیستنې پیل او څرنگوالی ..............................٤۷**

۱. د ادبیاتو او معلوماتي ټکنالوژۍ اړیکې ..............................۵۳

الف) له منظوم ادب سره د معلوماتی تکنالوژۍ اړیکې ..............۵٦

ب) له منثور ادب سره د معلوماتي ټکنالوژۍ اړیکې ..............۷۱

۲. د ژورنالیزم او معلوماتي ټکنالوژۍ اړیکه ..............................۸۰

۳. پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ د اغېزو روښانه کول ..............۸۱

الف) مثبتې اغېزې ................................................................. ۸۲
ب) منفي اغېزې ................................................................. ۱۰۱

## څلورم څپرکی

**پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ د منفي اغېزو د مخنیوي لپاره د مناسبو او عملي طرحو وړاندې کول** ........................................ ۱۰۷
الف) په دیني لحاظ ................................................................. ۱۰۸
ب) په ټولنیز لحاظ ................................................................. ۱۱۱
ج) په کلتوري لحاظ ................................................................. ۱۱٤
د معلوماتي ټکنالوژۍ د منفي اغېزو د مخنیوي لارې چارې ........................ ۱۱۸
پایله ................................................................. ۱۲۱
وړاندیزونه ................................................................. ۱۲۳
مأخذونه ................................................................. ۱۲۵

**د لارښود استاد گزارش**

کال مخکې (پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې) په نامه د یوې داسې علمي- څېړنیزې پروژې لارښود استاد و ټاکل شوم، چې هم موضوع نوې وه او هم څېړونکی تازه کاره و. په دې اړه په پښتو ژبه کې د سرچینو کمی له هیچا نه پټه خبره نه ده، مگر دا دومره مهمه موضوع ده، چې هر څومره به پر مخ تله، هماغومره به یې ارزښت را ته برېښېده.

ټکنالوژي او ادبیات که څه هم په اوسني عصر کې سره غاړه غړۍ شوي دي او د نورو برخو تر څنگ یې د ادبیاتو او هنر د ودې او پرمختگ په ډگر کې ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. د مثبتو اغېزو تر څنگ یې منفي اغېزې هم لرلې دي او په دې اثر کې د معلوماتي ټکنالوژي پر پېژند او له ادبیاتو سره یې د اړیکو په اړوند، منظم او سیستماتیک بحث او څېړنه شوې ده. د څېړنې زیاته برخه یې کتابتوني ده او یو څه ساحوي څېړنه یې هم کړې ده. د څېړنې څېړندود یې تشریحي او تحلیلي دی او له دې امله یې له ټولو هغو لارو چارو او وسایلو نه گټه اخیستې ده، کوم چې د دغې مهمې موضوع د څېړنې لپاره ضرور و. له شک پرته د یوې سمې او روغې څېړنې بنسټ په وړ او مناسب تحلیل باندې ولاړ دی، د ادبي ښکارندو په سمه ارزونه او تشخیص کې د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې ډېرې ژورې او پراخې دي. په حقیقت کې معلوماتي ټکنالوژي د اوسني عصر د تمدن یو داسې سوغات دی، چې نه یواځې په ساینسي نړۍ، بلکې د ټولنیزو علومو په ساحه کې یې هم ډېرې ژورې او هر اړخیزې اغېزې لرلې دي.

نړۍ نن سبا د معلوماتي ټکنالوۍ له برکته په نړیوال کلي (گلوبل ویلیج) باندې بدله شوې ده. د ټولې دنیا انسانان او انساني ټولنې د تخنیک په مزو سره یو له بله داسې پیوند او نښلول شوي دي چې بېلول یې امکان نه لري. له شک پرته همدغه

روان عصر د ټکنالوژۍ او کمپيوټر زمانه ده او په دې کې د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې بې ساري دي. په پښتو ژبه او ادب باندې د معلوماتي ټکنالوژي په اړه مخکې خال- خال څېړنې شوې وې او يو شمېر ارزښتناکې مقالې هم ليکل شوې وې، مګر په دې اړه د دغه اثر د ليکلو تر وخته پورې کوم بشپړ اثر نه و ليکل شوی. له دې امله دا موضوع د څېړنيارۍ د نوماندۍ دورې د رفع کولو لپاره ټاکل شوې وه او په دې توګه په يوه سريزه او څلورو څپرکو کې داسې را ونغښتل شوه چې يوه ګټوره پايله، د وړانديزونو پاڼه او سرچينې هم ور سره ملې دي.

د اثر په لومړي څپرکي کې د معلوماتي ټکنالوژي په اړه د هغو چاپي آثارو په باب علمي تبصرې شوې دي چې په هغو کې د دې موضوع په اړه لبر او ډېر معلومات راغلي و. په دويم څپرکي کې د معلوماتي ټکنالوژي پېژندنه شوې او سيمې ته يې د راتګ څرنګوالی ښودل شوی دی. معلوماتي ټکنالوژي د حال او احوال د چټکې رسونې، ساتنې، لېږد- را لېږد وسيلې ښودل شوي او ان هغه يې په اوسني وخت کې د ټولنې د اعصابو په نامه باندې معرفي کړې دي. معلوماتي ټکنالوژي چې د بېلابېلو سيستمونو او وسايلو ټولګه يې بللی شو هره يوه يې خپل پېژند او اغېز لري او له همدې امله د هرې وسيلې او ډول په اړه يې ځانګړې خبرې شوې دي، خو په ټوله کې پر دې ټکي باندې ټينګار ليدل کېږي، ټولې هغه وسيلې چې خبرونه او معلومات له يوه ځايه بل ځای ته په چټکۍ سره د تخنيکي آلاتو په وسيله لېږدوي معلوماتي ټکنالوژي بلل کېږي. په دريم څپرکي کې پر پښتو ژبه او ادب له معلوماتي ټکنالوژۍ څخه د ګټې اخيستنې د پيل او څرنګوالي په باب څېړنه شوې ده او دا څپرکی د نوموړې موضوع اساسي او تر ټولو نورو څپرکو، ډېر مهم څپرکی دی. په دې ځای کې د يادې شوې موضوع د منځپانګې په برخه کې ډېر ګټور معلومات وړاندې شوي دي. د معلوماتي ټکنالوژي د

پرمختگ لوړه کچه او پر پښتو ادبیاتو یې پراخې او هر اړخیزې اغېزې بیان شوې دي او په هره برخه کې یې مستندې بېلگې او مثالونه ورکړل شوي دي. له معلوماتي ټکنالوژۍ نه په پښتو ژبه او ادب کې په نولسمه میلادي پېړۍ کې گټه اخیستنه پیل شوه، په شلمه او یوویشتمه پېړۍ‌کې یې هر لور ته خپل وزرونه وغوړول. په دې څپرکي کې د ادبیاتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د اړیکو په اړه داسې ارزښتناک بحث شوی دی چې د درنو لوستونکو لپاره له گټې نه خالي نه دی او ترڅنگ یې پر ادبیاتو د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې له پامه غورځول یو ډول ساده‌گي بلل شوې ده. د اثر په څلورم څپرکي کې د معلوماتي ټکنالوژي د منفي اغېزو او تاوانونو په باره کې معلومات ورکړل شوي دي چې د هغو یوه بېلگه په ډېرې چټکۍ سره یو څه لیکل او د نورو له کتنې او اېډیټ پرته یې د فیسبوک، انټرنېټ او نورو ټکنالوژیکو وسیلو له لارې خپرول شامل دي چې په دې برخه کې گڼې املایي گډوډۍ، انشایي تېروتنې، معلوماتي نیمگړتیاوې او مزاحمتي چلندونه، د معلوماتو ډېر لږ ډاډمنوالي باندې خبرې شوې دي. د اثر په پای کې پایله راوړل شوې او د کوم هدف او موخې لپاره چې دغه څېړنه پیل شوې وه د هغې په ترلاسه کولو باندې ډاډ ښودل شوی دی. له هغه وروسته د وړاندیزونو ټولگه راوړل شوې او د کتاب په پای کې په اثر کې استفاده شوې سرچینې ښودل شوې دي.

په ټوله کې ویلی شو چې دغه اثر په یوه ډېره مهمه موضوع باندې لیکل شوی او نن سبا د هېواد سیمې او نړۍ ادبیات د ټکنالوژۍ په مرسته ډېر پرمختگ کړی دی، نو له دې امله باید دغه گټور اثر چاپ هم شي. دغه کتاب په روانه او عامفهمه ژبه لیکل شوی، معلومات یې گټور او ارزښتناک دي. زه د دې علمي پروژې د لاربنود استاد په توگه دغه اثر د دغه ښه استعداد لرونکي هڅاند ځوان

نوماند څېړنيار مطيع الله ساحل د څېړنيارۍ د نوماندۍ دورې د رفع کولو لپاره کافي بولم او د ښې راتلونکې په هيله يې د افغانستان د علومو اکاډمي مشرتابه پلاوي ته د علمي ترفيع د ورکولو وړانديز کوم.

په درنښت

څېړنوال محمدنبي صلاحي

# سریزه

له شک پرته اوسني ټکنالوژیک پرمختګ د انسانانو ټولنیز او فردي ژوند تـه بـدلون ورکـړی او د انسـانانو د ژونـد د ټولـو مـادي او معنـوي ارزښـتونو پـه وده، پرمختګ، غوړېدا او ساتنه کې يې خپل رول لوبولی او اسـانتیا یـې رامنځتـه کـړې دي، نو ادبیات هم د انسان د ټولنیز ژوند یوه مهمه برخه ده او دا برخه لکـه د ژونـد د نورو برخو په څېر د اوسنۍ ټکنالوژۍ له اغېـزو خونـدي نـه ده پـاتې. دلتـه مهـم بحث دا دی چې ادبیاتو له اوسنیو ټکنـالوژیکي پرمختګونـو سره کومـه ښـه غـوره کړې ده، پرمختګ يې کړی دی که شاته تـګ، منفـي اغېـزې یـې زیـاتې دي کـه مثبتې، همدارنګه د ادبیاتو معنوي ارزښت او ټولنیزو اغېزو ته څومره پاملرنـه شـوې ده؟ نو دا چې د پښتو ادب په دغه برخه کې چا کومه ځانګړې څېړنه نه ده کـړې او نه پرې تر اوسه پورې یو بشپړ علمي- څېړنیز اثر لیکل شوی دی؛ نو دې ته اړتیـا وه چې د پښتو ژبې او ادب په دغه برخه کې یو ځانګړی علمي او څېړنیز اثـر ولیکـل شي، نو له همدې امله کله چې زه د افغانستان د علومو اکـاډمۍ د علمـي غـړي پـه توګه و منل شوم د علومو اکاډمي له اصولو سره سم د ژبو او ادبیاتو مرکـز، د پښـتو ژبې او ادبیـاتو انسـتیتوت، د متنپـوهنې څـانګې لـه خـوا ((پـر پښـتو ژبـه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې)) تر سرلیـک لانـدې د څېړنیـارۍ د نومانـدۍ دورې د رفع کولو لپاره د څېړنوال محمد نبـي صـلاحي پـه لارښـوونه، دا علمـي او څېړنیـزه پروژه را و سپارل شوه. ما هـم د ښـاغلي اسـتاد پـه مسـتقیمه لارښـوونه دا موضـوع څېړلې ده او له خپل وس او امکاناتو سره سم مې د هغې په لیکلـو او بشـپړولو کـې خواري کړې ده. هېره دې نه وي چې د دې موضوع په برخه کې په پـوره انـدازه د موادو نه شتون یوه ستره سـتونزه وه، ځکـه چـې د دې موضـوع پـه اړه ډېـري لـږې

خورې ورې ليکنې په ځينو چاپي آثارو او انټرنټي پاڼو کې موجودې وې، خو تر اوسه پورې کوم بشپړ څېړنيز او اکاډميک اثر پرې نه و ليکل شوی، له دې ستونزو سره- سره مې بيا هم هڅه کړې او د شتو امکاناتو په مرسته مې دا علمي- څېړنيزه پروژه بشپړه کړې ده. دغه پروژه پر سريزې سربېره په څلورو څپرکو کې بشپړه شوې ده.

په لومړي څپرکي کې د څېړنې له اصولو سره سم د موضوع پر شاليد خبرې شوې دي، چې په کې د معلوماتي ټکنالوژۍ د تيورۍ په برخه کې او پر ادبياتو د دغې ټکنالوژۍ د اغېزو په اړه تر اوسه پورې تر سره شوي کارونه څرګند او ارزول شوي دي، چې کابو نه(۹) هغه آثار چې د دې موضوع په اړه په کې لږ او ډېر معلومات راغلي معرفي شوي دي او د هغو په پېژندنې سربېره دا هم جوته شوې ده، چې د کومو دلايلو له امله ما دغه موضوع غوره کړه او د هغو په پرتله دا څېړنه څومره کره او بشپړه ده.

په دويم څپرکي کې لومړی پر عمومي عنوان ((د معلوماتي ټکنالوژۍ معرفي او سيمې ته يې د راتګ څرنګوالی)) باندې لنډې خبرې شوي او ور پسې د معلوماتي ټکنالوژۍ پېژندنه شوې، بيا د نړۍ او هېواد په کچه د معلوماتي ټکنالوژۍ ډولونه ښودل شوي، په وروستۍ برخه کې يې د معلوماتي ټکنالوژۍ پر پيدايښت او پايښت خبرې شوي دي، چې ياده ټکنالوژي په ځانګړې توګه کمپيوټر، انټرنټ، راډيو، ټلوېزيون... په نړۍ کې څنګه او څه وخت رامنځته شوي او څنګه يې پرمختګ کړی دی، کله زموږ ګران هېواد افغانستان ته راغلې ده او دلته يې د پايښت بهير څېړل شوی دی.

درېيم څپرکی چې د موضوع مهمه او اصلي برخه ده، لومړی له معلوماتي ټکنالوژۍ څخه په پښتو ژبه او ادب کې د ګټې اخيستنې په پيل او څرنګوالي خبرې شوې دي، چې له يادې ټکنالوژۍ څخه په پښتو ژبه او ادب کې له څه وخت راهيسې ګټه اخيستل پيل شوې دي، چې ما يې پيلامه د چاپ له ماشين

څخه کړې او تر انټرنټ، فېسبوک او نورو ډولونو پورې پرې خبرې شوې دي، ورپسې د ادبیاتو او معلوماتي ټکنالوژۍ اړیکې څېړل شوې دي، چې په دې برخه کې له منظوم او منثور ادب سره د معلوماتي ټکنالوژۍ اړیکې جوتې شوې دي. همدارنګه د دې تر څنګ ژورنالیزم چې له ادبیاتو سره مستقیمه اړیکه لري او له دې لارې پښتو ژبې او ادب ته تر اوسه ډېر کار شوی دی، نو ځکه مو دلته د ژورنالیزم او معلوماتي ټکنالوژۍ پر اړیکو هم لنډې خبرې کړې دي. همدا راز پر دې سربېره په دې څپرکي کې پر پښتو ژبه او ادب د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې روښانه شوې دي، چې لومړی یې مثبتې اغېزې ښوول شوي او ورپسې په منفي اغېزو خبرې شوې دي. په څلورم او وروستي څپرکي کې بیا په دیني، کلتوري او ټولنیز لحاظ د ټکنالوژۍ منفي اغېزې بیان شوې دي او د هغو د مخنیوي لپاره مناسبې او عملي طرحې وړاندې شوې دي او بیا یې د مخنیوي لپاره لارې چارې ښودل شوې دي. په پای کې یې پایله وړاندیزونه او اخځلیکونه هم راغلي دي.

## د څېړنې میتود او ډول

په دې علمي- څېړنیزه رساله کې له تشریحي- توضیحي، تحلیلي او انتقادي میتود څخه ګټه اخیستل شوې او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی، چې ځای ځای له ساحوي ډول څخه هم استفاده شوې ده.

## د څېړنې هدف او مبرمیت

د دغې علمي- څېړنیزې پروژې هدف دا دی چې معلوماتي ټکنالوژي معرفي او افغانستان ته یې د راتګ ځرنګوالی او د پرمختګ بهیر روښانه او وڅېړل شي، له ادبیاتو سره یې اړیکې جوتې او پر ادبیاتو یې مثبتې او منفي اغېزې وارزول شي. مبرمیت یې دا دی چې د دغه کار په بشپړېدو سره په دې برخه کې د پښتو ادبیاتو یوه تشه ډکه، یو علمي او اکاډمیک اثر رامنځته شو.

## د پروژې په باب پخوانۍ څېړنې

له دې سره سره چې د يادې موضوع پـه اړه خـورې ورې ليکنـې شـوي، چـې هغه په خپل ځای او وخت کې ارزښتناکې او د قدر وړ دي، خو د دغې موضوع د هر اړخيزې څېړنې او د نويو غوښتنو له مخې دغه کارونه بسنه نـه کـوي او لـه بلـې خوا په همدغه سرليک او موضوع باندې تر اوسه پورې چا منظم او اکاډميـک اثـر نه دی ليکلی.

په پای کې د دې پروژې په ليکلو کې لومړی له خپـل لارښـود اسـتاد ښـاغلي څېړنوال محمد نبي صلاحي څخه د زړه له تله مننه کـوم او د روغ صـحت او اوږد عمر لپاره يې د خدای تعالی دربار ته لاسونه لپـه کـوم، چـې د رسـالې د ليکلـو پـر مهال يې لازمې لارښوونې او خپل نظريات وخت پـر وخـت راسره شريـک کـړي دي. همدارنگه د مأخذونو راښوول او د ځينو ماخذونو راکول يې هـم را څخـه نـه دي سپمولي، همدار راز له څېړنپوه دوکتور سيد محيالـدين هاشـمي او څېړنـوال سيد نظيم سيدي څخه هم مننه کـوم، چـې لـه ډېـرو بوختيـاوو سره سره يـې ماتـه د دغې پروژې په ليکلو کې لازمې لارښوونې کړي، د دې پروژې اړونـد کتابونـه يـې پيدا کړي او ماته يې په واک کې راکړي دي. د پېرزوينو يې پوروړی يم. هېـره دې نه وي، چې د پښتو ادب په څېړنيز بهير کـې دا زمـا لـومړنی کـار دی، نـو ضرور بـه ځينې نيمگړتياوې لري، خو مـا تـر خپلـې وسـې پـوره کوښـښ کـړی او زيـار مـې ايستلی، ترڅو دغه څېړنه په ريښتينې امانتدارۍ او بشپړه توگه تر سره کړم.